# افـــغــــان شهــــــــــزاده

# او زه

## " په افغانستان کې لومړنی امـریکایي "



شهزاده اکبرخان ( ۱۸۱۶-۱۸۴۶)

# تأریخي نــاول

**لیکوال : پـوهانـد بشیر احمد زکـریـا**

**د کولمبیا د پوهنتون دایمي پروفیسر**

**ژباړه : رحمت آریـا**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

# اووم څپرکی

د ۱۸۳۹ - ۱۸۴۰ز کال ژمی له سرخوږۍ پرته تېرشو، ددې ژمي په تېرېدو سره د مکناتن يوه اندېښنه هغه مهال دوه شوې چې د بخارا له زندانه د دوست محمد خان له تېښتې او د افغانستان په شمال کې د هزاره مشرانو او وزبيک جنګياليو له راغونډولو خبر شو. يوه بله بدمرغي چې انګليسانو ته ورپېښ سوه د شاه شجاع د نوي جوړ شوي لښکر له منځه د لښکر د پليو ځواکونو او د هغوی د بولندوی صالح محمد خان تېښته او له امير دوست محمد خان سره د هغوی يو ځای کېدنګ وو. د ۱۸۴۰ز کال د سپتمبر په مياشت کې لارډ اکلنډ ته راپور ورسېد چې د کابل او د اکسوس د سيندونو تر منځ د ټولو سيمو خلک د امير دوست محمد خان په ملاتړ راپاڅېدلي او دواړه کابل او کوهستان خو لا وختي ظاهراً پاخون ته په ګونډو ناست دي.

د امير دوست محمد خان مشر ورور سردار عبدالجبار خان څو مياشتې مخکې امير ته ويلي ول چې غواړي خپله ټوله کورنۍ د خونديتابۀ لپاره هزاره جاتو ته واستوي. امير چې د خپل ورور ددغۀ تور برېښ «هُشدار» او خپلي لويې کورنۍ په هکله اندېښمن وو جبار خان ته مخ ور واړاوۀ او ورته ئې وويل :" ولې زما کورنۍ هم له ځانه سره نـۀ بيايئ؟ زما 'ناموس' هم ستا ناموس او ستا د کورنۍ په شان ستا خپله کورنۍ ده!" جبار خان همداسې وکړل، خپله او د امير کورنۍ ئې له ځان سره د يو شمير ساتونکو په ملتيا واخېستله. ددوی د اوښانو، اسونو او کچرو کاروان له خـُلـمه د ايبکو او دوشي پر لور وخوځېد او د شيبر د غاښي له لارې څخه په تېرېدو ئې باميانو ته د تکل پر لور خپل خوځښت ته دوام ورکړ؛ د پسرلي له راتګ او د بوټو له شنو کېدو سره سم ول چې د باميانو دَرې ته ورسېدل. د باميانو شنې او سمسورې درې ورته په خپل معطر پسرلني وږم ښـۀ راغلاست وويل. زه په ۱۸۳۸ز کال کې د خپل لښکر په ملتيا دغې زښتې ښکلې تاندې دَرې ته راغلی وم.

ددې دَرې ډېرينو ګړنګونو، د خپل يوۀ پخوانې سفر يادونو ته بوتلم چې د امريکا په باغي او ځپانده لوېديز کې مې درلود. کولای سم وانګيرم چې سلطنتي کورنۍ، اعليحضرت، زامن او ورونه به ئې هغه مهال خوښ سوي وي چې د سختو غرونو له غاښيو څخه په تېرېدنې د طبعيت په همداسې يوې آرامې زانګو کې ئې ځانونه هوسا احساس کړي وي.

د ۱۸۴۰ز کال د اُوړي په پېل کې امير دوست محمد خان او د ورونو کورنۍ ئې د بندِ امير په ختيځ کې په يوې لويې کېږدۍ او وړوکي کېږکۍ «خِرګاه» کې ځای پر ځای شول چې د ژمي د استوګنې لپاره يوه د زړۀ د خوښې بومې کېږدۍ وه او د کهاله له ځلورو ديوالونو او انګړ څخه لا ښه برېښېدله. د ۱۸۳۸ز کال د لښکري خوځون په لړ کې موږ هم د همدغـۀ غير معمولي بند تر څنګ خپلې کېږدۍ دَرَولي وې؛ پر دغـۀ بند باندې درې ويالې سپرې دي چې دا بند په خپلو اوبو ډکوي؛ ددرو واړو ويالو اوبـۀ بند ته د يوۀ ستر ګټ له غرنۍ چاولې «دهانه څخه » لاندې ډنډ ورلوېږي. ددغې غرنې چاولې څنډې له ډېرشو تر ځلوېښتو فيټو پورې لوړوالی لري چې د ځروبې ښې په غورو کولو په خپلو رونو اوبو دا اوب - بند ځروبوي. بندِ امير شين فيروزه يي رنګ لري، اوبـۀ ئـې زښتې ډېرې سرې دي او شينوبره «کبود» لوی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

کبان[1] او د بوډۍ ټال[2] " قزل آلا[3]" کبان ئـې په ځنډو کې په آزاده ناځي. شهزاده اکبر خان مخکې راته ويلي ول چې د همدغـۀ کاروان په منځ کې د هغـۀ مـېرمن، مور ئـې خديجه، «ملکه» سلطانه، د امير دوست محمد خان لومړۍ او مهمه مـېرمن، اګه[4] تاج «د سترواک احمد شاه بابا کړوسۍ» او ترۀ ئـې سردار عبدالجبار خان له خپلې ټولې کورنۍ سره مل دي. وروسته خبر شوم چې زما يوۀ پخواني دوست او هزاره قومي مشر رفيع بيګ، د هزاره له نورو قومي مشرانو سره په ګډه اعليحضرت کهمرد ته بللی وو. په هر ګوټ او موړ کې حاضرو جواسيسو ددغـۀ کاروان د پټ موقعيت راپور مکناټن ته ورکړی وو. سر ويليم مکناټن د برتانوي سرتـېرو د سپرو يو کنډک د سلطنتي کورنۍ د نيولو لپاره سيمې ته ولـېږۀ.

رفيع بيګ او هزاره مشرانو د سلطنتي کورنۍ کاروان ته بې سارې مـېلمستيا او پناه ورکړه او په ورين تندي ئـې ومنله. د برتانوي سپرو کتار د ميوه لرونکو ونو د غوټۍ وهلو له فصله مخکې چې معطره وږم ئـې لا تر دې دمه په هوا کې خپرېدۀ د تورې شپې په تـرَږمۍ کې سلطنتي کورنۍ په غلچکي ډول کلابند کړه. کله چې له خوبه راويښ سول د افغان ساتـندوی کنډک سرتـېرو او افسرانو ددوی د بولندوی اسلم خان په ګډون ځانونه سوټ موټ په ګونګيو ژبو د برتانوي سپرو په کلابندۍ کې احساس کړل چې د توپک ماشه په لاس ددوی مخامخ درېدلي ول. بولندوی اسلم خان په چټکۍ ځان د سردار عبدالجبار خان کيـېږدۍ ته ورساوۀ او هغه ئـې لاس نيولی راووست چې د کلابندۍ رامنځته شوې پېښـه په خپلو سترګو وګوري. جبار خان د ملکې او (مورنۍ ملکې) کيـېږدۍ ته ورغی او پوښتنه ئـې وکړه چې آيا د کلابندۍ ليکه ماته کړي که نـه. مورنۍ ملکې «د امير دوست محمد خان مور» چې دنګه ونه ئـې درلودله او د يوۀ کابلي قزلباش لور وه، د برتانوي سپرو د کلابندۍ د پېښـې په ليدلو چې شلګرې او فيتله يي توپک ئـې درلودل او ګوري چې مخامخ ورته ولاړ دي، سردار عبدالجبار خان ته وويل :" ددې کلابندۍ د ماتولو لپاره هر ډول هلې ځلې له وينو توييدلو پرته بل هـېڅ ګټه نـۀ لري؛ دا به يوه بې ګټې هڅه وي؛ ښه به دا وي د ددوی جنرال ته ورتسليم شو." سردار عبدالجبار خان، اسلم خان له يوۀ سپين بيرغ سره د انګليسانو کمپ ته ولـېږۀ. کپتان هورس نلسن[5] له خپل آس سره يو څـۀ مخکې راغی چې له اسلم خان سره ووينې. اسلم خان نوموړي کپتان ته وويل چې سلطنتي کورنۍ او ورسره بدرګه کنډک به د يوۀ شرط په وړاندې کولو تسليم شي. کپتان هورس وپوښتل چې شرط مو څـۀ دی؟ اسلم خان وويل دا د سردار عبدالجبار خان او د مورنۍ ملکې غوښتنه ده چې سلطنتي کورنۍ او ورسره بدرګه کنډک به له دود او پروتوکول سره سم هغـۀ برتانوي افسر ته تسليم شي چې د جنرالۍ رتبه ولري. کپتان هورس بـېرته د خپل کنډک مرکز ته لاړ او خبره ئـې د نورو افسرانو تر غوږو ورسوله خو ددوی په منځ کې هـېڅ چا د جنرالۍ رتبه نـۀ درلودله. له غور او سنجونې وروسته ئـې پرېـکړه وکړه چې دا خبره د جنرال سيل تر غوږه ورسوي چې له باميانو لـېرې د دوو ورځو د آس په مزل لـېرې پروت وو. د امير او د سردار عبدالجبار خان کورنۍ سترګې په لاره پاتې شوې او ماشومانو د ځمکې پر مخ توپ ډنډه کوله. جنرال سيل چې چوپړ ته چمتو وو له خپلو سپرو سره راغی؛ سلطنتي کورنۍ او د کلابندۍ په حال کې ساتندويه ډله ټول جنرال سيل ته تسليم شول. جنرال سيل د سلطنتي کورنۍ د ټولو مشرانو پر وړاندې له ځانه ډېر درناوی او زړۀ سوی څرګند کړ. جنرال سيل پرته له دې چې په دوی باندې افغانان خبر شي دوی ئـې د برتانوي سرتـېرو يوۀ پياوړي ځواک ته په لاس ورکړل او په غلچکي ډول ئـې د غزني په

---

[1] - large carps : د کتاب پـۀ پای کې ئـې شرحه کې وګورئ

[2] - rainbow trout

[3]- قزل آلا يو تورکي وييکی دی او هغه ډول کبانو ته ويل کـېږي چې پر ځان تنکي سرۀ ټکي لري او غوښه ئـې زښته ډېره خوندوره ده - ژ

[4] - Aga Taj : د کتاب پـۀ پای کې ئـې شرحه کې وګورئ

[5] - Captain Horace Nelson


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونـه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

يوې پټې لارې هندوستان ته ولېږل.

د ۱۸۴۰ز کال د آگست د میاشتې وروستۍ شپې او ورځې وې چې امير دوست محمد خان د هېواد له شمال لویدیزه د یوۀ لښکر په جوړولو چې د وزبیکو، هزاره او تورکمن قومونو له جنگیالیو جوړ وو په بامیانو کې د برتانیې پر لښکر کوټ برید وکړ. جگړې تر څلورو ورځو پورې دوام وکړ او د جگړې دواړو خواوو ته درانده تلفات واوښتل، د دواړو خواوو نېږدې زر تنه جنگیالي ووژل شول او یو گڼ شمیر ټپیان شول. د جگړې څلورمه ورځ وه چې پر خپل آس سپور دوست محمد خان د خپل لښکر په لومړۍ کرښې کې ودرېد او په داسې حال کې ئې پر برتانوي لښکرکوټ متېر «یورش/ برید» وَر ووړ چې خپله توره ئې په مېړانې او له ویرې پرته ټینگه په هوا کې تاووله، برتانوي اجیر سرتېري اړ شول چې سیغانو ته په شا شي؛ افغان جنگیالیو د پېرنگي لښکرکوټ څو مورچلونه ونیول. برتانویانو د تېښتې پرمهال یو توپ، یو شمیر کونیز «خولپوټي» توپک، باروت او خپل نور لوژیستیکي وسایل تر شا پرېښودل. د آگست د میاشتې په ۳۰ نېټې د شهزاده اکبر خان مشر ورور سردار افضل خان د خپلو پینځو سوو سپرو وسلوالو په ملتیا په سیغانو کې د برتانیې پر بل لښکر کوټ برید وکړ، ددغۀ برتانوي لښکرکوټ بولنه د کپټان رتري[6] پرغاړه وه. په سیغانو کې ځای پر ځای، د رتري لښکر کوټ هم شا گرځ ته اړ شو. په همدې وخت کې د شاه شجاع د سپرو سرتېرو یوه رساله چې د جگړن هاپکینز[7] له پلوه ئې پوځي روزنه لیدلې وه د امير دوست محمد خان لښکر ته پناه یووړه. دا خبر په ډېر لنډ وخت کې کابل ته ورسېد. ددې خبر په اورېدلو سره ویلیم مکناتن کلک ټکان وخوړ او د سترگو په رپ کې ئې د توپخانې په ملتیا یو غښتلی مرستندوی او ملاتړی ځواک سیمې ته ولېږۀ، دغه ځواک د کابل د ځواکونو له منځه د جنرال سیل تر بولنې لاندې د ځواک یوه برخه، د کاټن[8] او په کابل کې د برنس د اړوندو پولیټیکل ایجنټانو د ځواکونو له برخو او هم په غزني کې د ډاکټر لارډ [9] له ځواکونو څخه یو غوره شوی، وتلی او زبده ځواک وو.

هغه مهال چې امير دوست محمد خان د خُلُم د ولسوال په یوۀ مرکز کې وو، ولسوال د ډاکټر لارډ لیک دوست محمد خان وښودۀ چې دۀ ته ئې رالېږلی وو؛ ډاکټر لارډ نوموړي ولسوال ته لیکلي ول چې د امير دوست محمد خان له ملاتړه دې لاس واخلي او امير دوست محمد خان ته دې ووایي چې برتانوي ځواکونه به دې د افغانستان په هرگوټ او پل کې تر څار لاندې ونیسي؛ همدا شان دوست محمد خان ته دې ورسول شي چې ددۀ یوۀ زوی ته چې د کابل په بالاحصار کې د شاه شجاع په منگولو کې برمته دی، تاوان ورسول شي.

د ۱۸۴۰ز کال د سپتمبر د میاشتې په اوومې نېټې د ډگروال ډِني تر بولنې لاندې یوه پلي بومي لېوا له کابله د بامیانو پر لور وخوځېدله چې په بامیانو کې د راگیر شوي برتانوي لښکر کوټ مرستې ته ودانگي، ددې لېوا په لیکو کې د کپټان اندرسن، کپټان کانولي[10] او د ډاکټر لارډ سپارۀ ول؛ دې لېوا چې له چا سره ئې د مخامخ کېدلو هیله نۀ درلودله ناڅاپه له امير دوست محمد خان سره مخامخ شوه. له دې سره سره چې ددغۀ برتانوي ځواک شمیر ډېر لوړ وو خو د امير دوست محمد خان پر وړاندې بولندوی

[6] - captain Rattray
[7] - Major Hopkins
[8] - Cotton
[9] - Dr. Lord
[10]- captains Anderson, Connolly


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ډګروال ډِني او سرتېرو ئې خپل جرئت له لاسه ور نۀ کړ. ډِني خپل دواړه توپکونو په لاس کې راواخيستل او په دواړو توپکو ئې ډزې پېل کړې، سره له دې چې پر دوی باندې د وزبيکو له نېږدو مورچلونو څخه د هاوان د

ګوليو باران وَرېدۀ خو بيا ئې هم وکولای شول د وزبيکو دفاعي کرښې ماتې کړي. د ډګروال ډِني څلورسوه کسيز افغان سپارۀ سرتېري چې د برتانوي لېوا يوه برخه وه په دوست محمد خان پسې چې شا ګرځ ته ئې مخه کړې وه واستول شول او لښکر ئې دړې وړې شو. ما او شهزاده اکبر خان په دې جګړې کې ګډون نۀ درلود خو د انګليسانو له بريا او د امير دوست محمد خان له ماتې خبر شولو. ګنګوسې خپرې شوې وې چې ګڼې نېږدې وو افغان پاچا د انګليسانو لاس ته ولويږي، خو دوست محمد خان په خپلې چابکۍ او د خپل آس په ګړندی ځغاستې په دې توانېدلی وو چې ځان له دې لومې څخه خوندي وژغوري. د برتانويانو جاسوس موهن لال چې په دې مهال کې د مکناټن سکرتر وو ليکي :" برتانوي پوليټيکل ايجنټان د امير دوست محمد خان د ماتې لامل په دې پورې تړي چې د خُلُم ولسوال خپل ځواکونه د جګړې له ډګره وايستل او بل لامل ئې د برتانويانو له پلوه د ګواښونو لړی، ژمنې، سرۀ زر او د برتانويانو له پلوه د مقامونو ورکړنګ بولي. ګڼ شمير افغانان او يو شمير انګليس افسران مني چې همدا لاملونه د امير دوست محمد خان د ماتې بنسټيز لاملونه ول. په دې توګې د مکناټن خپره شوې پاليسي " تفرقه واچوه و حکومت وکړه" بريالی وختله."

څو اونۍ وروسته د پنجشير، کوهستان، قطغن، چاريکارو، هزاره جاتو او د افغان وزبيکو او افغان تورکمنو قومي مشرانو غوښتنه وکړه چې غواړي له اعليحضرت دوست محمد خان سره لېدنه کتنه ولري. دوست محمد خان د قومي مشرانو غوښتنه ومنله. د غوربند يوۀ قومي مشر امير دوست محمد خان ته ، په غوربند کې د ورتګ بلنه ورکړه او ژمنه ئې وکړه چې خپل اووه سوه جنګيالي به هم د امير د لښکر ليکو ته ور واستوي؛ غوربند ته له رسېدا وروسته سره له دې چې نوموړي يوه ورځ مخکې امير ته د سپينو زرو په ګانو پسولل شوی يو ښکلی آس د ډالۍ په توګې وړاندې کړی وو، په سبا ئې له خپلې کړې منځتشې ژمنې څخه پښيمانه شو. امير د خپلو څو تنو د ګوتو په شمار ملګرو په ملتيا تر ديارلسو ورځو پورې جګړه وکړه او د لارې له پرانيستلو وروسته په دې وتوانيد چې د هندوکش د ياغي غرونو لمنو ته پناه يوسي. شهزاده اکبر خان چې د بخارا له زندانه تښتېدلی وو او زه چې د هزاره جاتو له يادونو ډک سفر څخه راستون شوی وم څۀ موده وروسته له امير دوست محمد خان سره په کوهستان کې يو ځای شولو. موږ د امير په ملتيا چاريکارو ته لاړو او ورپسې د سيمې يوۀ مخوَر او پياوړي خان عبدالسبحان خان ته ورغلو. دغۀ خان اتۀ کلا ګانې او لس زره جنګيالي درلودل. عبدالسبحان خان موږ ته د ډېر درنښت په ښودلو او په خپلې بې ساري مېلمستيا ښۀ راغلاست ووايه. د شپې تيارۀ چې خپره شوه خپل ورور ئې «سيد» د پېرنګيانو لښکر کوټ ته ولېږۀ او پيام ئې ورکړ چې که غواړئ امير لاس ترلی ونيسئ نو زما د ورور کلا ته راسئ او د مخکې له مخکې ټاکل شوي انعام د ورکړنګ په شرط ئې ژوندی ونيسئ. د پېرنګي سپرو يوې رسالې کَرۍ شپه د «سيد» تر لارښوونې لاندې اوړده لار ووهله او په شنۀ سهار کې، کلا ته له رارسېدا سم ئې، سيمه کلا بند کړه. امير دوست محمد خان چې پر دغۀ مهال د سهار چای ته ناست وو له کلابندۍ څخه خبر سو. امير ناڅاپه په پښو ودرېد، کوربه عبدالسبحان ته ئې مخ را واړاوۀ او په لوړ غږ ئې ورباندې چيغه کړه چې :" خبيثه کافره! دا څۀ بې ايماني او خيانت دې نښلولی چې ما پيرنګيانو ته په لاس ورکوې؟" سبحان خان له خپله ځايه لا نۀ وو پورته سوی



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

چې امیر وربانديې خپله پولادینه او ځلانده توره له تیکي را وایستله او په یوهٔ کاري ګوزار ئــې د سبحان سر له تــنې څخه ورپریک کړ. ورپسې موږ د امیر" د دولسو تـنو یارانو" په ډلې کې یو ځای شولو. بیا په چابکۍ پر خپلو آسانو سپارهٔ شولو او د خپلو تورو تر برېښ او ځلا لاندې مو اسونه په تراټ کړل او په چټکۍ له کلا دباندې راووتلو. وروسته مو د پادشاه ګرد چاپېره یوه لوزي ډوله دفاعي کرۍ جوړه کړه، زهٔ او شهزاده اکبر خان د کرۍ په منځنۍ کرښې کې د پاچا تر څنګ ودرېدلو. لنډه دا چې د برتانوي سپرو د کلابندۍ کرۍ مو د تورې په زور ماته کړه او د نـهٔ منلو په چټکوالي د کوهستان پر لور د میر مسجدي خان کلا ته ورغلو. زموږ کوربه میر مسجدي خان او سلطان محمد نجرابي پاچا ته د آزادي ښنونکي غورځنګ د ملي مشر په توګې له شور او ولولو ډک ښـهٔ راغلاست ووایه. له دې سره سم له کوهستانه سید غلام، اکرم خان، نصرت میرخان او له پنجشیره محمد خان او سیف الله خان زموږ له ځواکونو سره یو ځای شول.

د ۱۸۴۰ز کال د اکتوبر د میاشتې په ۲۸ نېټـې امیر دوست محمد خان د خپلو ځواکونو له بیا سمبالولو وروسته د زرهاوو سرښندیو مـېړنـیـو جنګیالیو د تورو په برېښ کې تر نیلي آسمان او د شنـهٔ بیرغ تر رپا لاندې د پروان پر لور وخوځېد. موږ ته خبر راورسېد چې الکسندر برنس او موهن لال دواړو په سیمې کې شپه و ورځ هلې ځلې پېل کړې او غواړي د کلیو او بانډو په منځو کې د استوګنو پرګنو یو موټیوالی مات او مَړغـَنـدۍ «نفاق» خپور کړي. موهن لال لیکي :" زه او سر الکسندر دواړه شپه وورځ له کابله د خلکو په همکارۍ په دې هلوځلو بوخت وو چې تر شوني کچې کلي په کلي وګرځو، خانانو ته ورتللو او د پیسو په ورکړنګ مو هڅه کوله ددوی ملاتړ په پیسو راوپیـرو چې که وکولای شو له خپلواکي ښنونکي غورځنګ او امیر دوست محمد خان سره د هغوی د یو ځای کېـدو مخه ډب کړو. زموږ لویه اندیښنه په دې کې وه چې امیر دوست محمد خان د خپل جهاد له اعلانولو سره سم د پرګنو یوه ستره شمیره ځانته راکاږلي وه، موږ په خپل ټول توان او وړتیا هڅه کوله له پاچا سره د خلکو د یو ځای کېـدلو مخې ته خنډ سو ، همدا شان مو هڅه کوله په کلیو او بانډو کې د خلکو او خانانو په ځانګړې توګې د امیر د مدافعینو په منځ کې د بې اعتمادۍ روحیه په دې هیلې پراخه کړو چې خلک د امیر د لښکر له لیکو سره یو ځای نـهٔ شي. دغې پالیسۍ کولی شوَی د امیر په ذهن کې ویره راوپنځوي او له بلې خوا د امیر مدافعین هڅول کېـدل چې امیر، انګلیسانو ته لاس ترلی وسپاري."

زموږ لښکر د غوربند د سیند په اوږدو کې خپل مزل ته دوام ورکړ او له درې ورځني سفر وروسته د پنجشیر دَرې ته ورسېدو؛ له رسـېدا سره سم مو د پنجشیر د تندرغړې سیند تر غاړې کیږدۍ ووهله. ددې ځپانده سیند د اوبو غړزا چې د اوبو یاغي څپې ئـې لویې لویې ډبرې په بیرحمۍ ټکوي تل راباندې کوډګره اغیزه شیندلې ده؛ د پنجشیر د سیند دغه ځانګړتیاوې په حقیقت کې د سیمې د نـهٔ ایلـېدونکي جوړښت او په کښې د استوګنو پرګنو د سرکښې فطري تومنې یوه څرګنده بېلګه ده. کله چې ټولو قومي مشرانو خپل جنګیالي، چې ډېـرې ئـې آس سپارهٔ ول، را ټول کړل، امیر دوست محمد خان راته وویل چې ددغو جنګیالیو د روزنې لپاره په خواشینۍ ډېـر وخت په لاس کې نـهٔ لرو چې ټولو ته د یوهٔ روزل شوي ځواک په توګې پوځې روزنه ورکړو، نو له دې کبله د جنرال سیل د پرمختګ په حال کې لښکر پر وړاندې مو چې له کابله خوځـېدلی وو د یرغلیزې ستراتیژۍ پر ځای مدافعوي ستراتیژي غوره کړه. د جګړې په هماغو پېـلنیزو شیبو کې ول چې د ادوارډ کانولي د وژل کېـدا خبر راغی، نوموړی د مکناټن خپلوان وو چې د یوهٔ غازي په یوې ګولۍ په زړهٔ کې لګېدلی وو او له پښو غورځول شوی وو. د ګوربت د سترګو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

شان ځیر سترګي او ماهره افغان ښه ویشتونکي د جزائیل په نامهٔ اوږد میله توپک لري؛ دا کونیز ډوله خولپوټي توپک کولی شي د ۷۰۰ تر ۹۰۰ یارډو تر منځ واټن - ښه په اغېزمنه توګه له منځه یوسي، یو شمیر خو ئې لا دوني دراندهٔ دي چې د اور کولو لپاره ستني (پایي) ته اړتیا لري چې وربانديې ټینګ کښېنول شي تر څو د اور کولو وړتیا ومومي.

د سِر رابِرټ سیل لښکر د ۱۸۴۰ز کال د نوامبر د میاشتي په دویمي نېټې په روڼا ورځ، پروان دَرې ته ورخېږمه د امیر دوست محمد خان له شمالي لښکر سره مخامخېږي. په لومړي ګام کي دوست محمد خان یو ډول زړهٔ نا زړهٔ توب ښکاره کړ، پیرنګیانو د دوست محمدخان دغه لنډه دمه د هغهٔ نا چمتووالی وانګېرهٔ. کله چي د جنرال سیل هندي سپارهٔ کیني خواته وخوځېدل، دوست محمد خان د یوهٔ پوځي تکتیک په ښودلو داسي وښودله چي ګڼي په شا کېږي. په همدې دم کي یو ناڅاپه افغان سپارهٔ سرتېري په کابو، ورو ورو او په شمیرلو ګامونو د دَرې له پاسه د برتانویانو د کرښي پر لور وخوځېدل. همدلته مې د کپټان فریزر[11]غږ واورېد چي پخوا مي په لودهیاني کي ورسره پېژندګلوي شوې وه، وینم چي فریزر د خپلو سپرو سرتېرو د دوو ډلګیو په مخکینی لیکي کي روان او لوېي لوېي چیغي ئې وهلې چي " مخ پــــرّ وړاااندې! تـّـوررري مــو راوبـــاسئ!" څو لنډې شېبې وروسته فریزر له خپلو سپرو سرتېـر یو څـهٔ وړاندې سو، خپله توره ئې نېغه پورته کړه او د تورې د څوکي په نغوتې ئې په لوړ غږ وویل :" مــــخ پــــــر وړااانـــدې! یـــــررررغـــل!" پیرنګي سپارهٔ افسران په زړورتیا د افغان لښکر پر وړاندې په تراټ سول، خو تر شا ئې سرتېرو په لومړیو کي پښي سپکولي او زړهٔ نا زړهٔ خوځېدل چي ورو ورو د افغان ځواکونو د ګامونو له ګړز سره مخامخ شول. د تورو د لومړني شرنګ او کړس په راپورته کېدلو سره پیرنګي اجیرو سرتېرو پښي سپکي کړې او وتښتېدل او د سرهٔ اور د ډګر په لاس په لاس جګړې کي ئې خپل افسران شا ته پرېښودل، په دې توګې ئې خپل پنځه تنه سپارهٔ پیرنګي افسران د خونړي برخلیک منګولو ته یوازې پرېښودل ترڅو په یوازې سر له ځانه دفاع وکړي؛ خو پیرنګي افسران هم دوني په مېړاني او زړورتیا وجنګېدل چي ان افغان پاچا ئې تر خپلي اغېزې لاندې راوست، او څه موده وروسته همدغهٔ افغان پاچا په خپلو خبرو کي بې اندازې وستایل. له دغو پینځو تنو افسرانو څخه دري تنه ئې په ګولیو سوري سوري شول. د کپټان فریزر وسایل او جنګي مهمات ول چي ددهٔ ژوند ئې ور وژغورهٔ، فریزر وکولی شول د افغان سپرو جنګیالیو د اور - کرښي له منځه تېر سي او ځان د پلیو سرتېرو مورچل ته ورسوي. نوموړي څو کاري ټپونه خوړلي ول خو تر ټولو بد ټپ ئې د لاس په مړوند کي وو. دا اتل پیرنګي جنګیالی دوني زړور وو چي ان په همدغهٔ ټپي حالت کي ئې هم خپله توره له لېرې د افغان پاچا مخې ته په ټکانونو ښوروله. امیر دوست محمد خان د جګړې په همدغو تودو خونړیو شېبو کي هم جنګېدهٔ، چې هم ئې په خپل ښي لاس توره وهله او هم ئې په کیڼ لاس خپل سپارهٔ جنګیالي هڅول او زړورتیا ئې ورکوله. دوست محمد خان د خپل سپارهٔ لښکر له لومړۍ کرښې لږ وړاندې ودرېد، شهزاده اکبرخان او دولس تنه یاران ئې لومړۍ تر شا ودرېدل، بیا له یو بله لږ څـهٔ لېرې شول او ټولو په چټکۍ د یوهٔ دري ځنډېز «مثلث» بڼه جوړه او بیا ټولو سپرو نېغ په نېغه په تراټ وخغستل. د دَرې له سره په چټکۍ را کوزېدو سره دوی څـهٔ دباندې د یوهٔ مایل په واټن مخامخ و جنګېدل. د افغان توپخاني توپونو پیرنګي سپارهٔ لښکر ته درانده تاوانونه ور واړول. ورپسي افغان سپرو خپل یرغلیز ګوزار ته مخ پر وړاندې دوام ورکړ او ځانونه ئې د جنرال سیل د پلیو سرتېرو د ګولیو تر نېږدې واټنه ورسول. دوست محمد خان د پیرنګیانو د توپخاني او د پلیو سرتیرو د ګولیو باران

[11] - Captain Fraser


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ته په کتو سره چې د دَرې په کښتنۍ لمنې کې ئې ټينګ مورچلونه نيولي ول و نـۀ غوښتل تر دې زيات نور تلفات ومني او سوکه سوکه ئـې جګړه ودرَوله. افغانانو تل د جګړې په ډګر کې خپله استادانه بريا په ډاګه کړې ده. امير دوست محمد خان پر خپل ځلانده خړ او جګ وزبيکي آس باندې سپور سو او تر شا ئـې شهزاده اکبر خان، دولس تنه ياران او زامن ئـې پر خپلو سپينو او تورو آسانو باندې سپارۀ او په لوړو غاړو بريمن راڅرګند شول. په هغو شېبو کې چې افغان لښکر ورو ورو شا ته کېدۀ، په خپلواکۍ مينو جنګياليو خپل شنـۀ او زرغون بيرغونه په خوارۀ غرني ورښ کې په بريمنو غاړو پورته ښورول.

جيورج لارنس[12] چې " دوست محمد خان د زاړه او زړور امير په نامـۀ ستايي" وائـې چې امير دوست محمد خان پر دغه مهال پنځوس کلن وو. سر الکسندر برنس چې په خپلې شننې کې د برتانوي لښکر دغه ماتې " يوه له شرمه ډکه ماته" بولي په بـيړي سرويليم مکناټن ته وليکل چې جنرال سيل او پاتې نور برتانوي ځواکونه دې هرو مرو له سيمې ووځي او په پلازمېنې کابل کې دې راټول شي.

د باميان د جګړې له ماتې څو اونۍ وروسته، امير دوست محمد خان د جبل السراج په يوۀ مرکز کې له موږ سره وليدل. امير زښت ډېر انديښمن، قهرجن او ستړی وو. د هماغې ورځې په سبا ئې کله چې د امير د سپرو سرتـېرو ځواک را ورسـېد موږ ئـې بيا خپلې کيږدۍ ته وبللو.

له دې يوه شپه مخکې زه او شهزاده اکبر خان په دې انديښـنې او فکر کې وو چې آيا د مکناټن له دسيسو او د باميانو په جګړې کې له ماتې پورته بل څـۀ داسې شی سته چې امير دوست محمد خان ئـې تر دغې اندازې انديښـنمن او له خپګان سره مخامخ  کړی دی. امير لوړه دنګه ونه درلودله چې له شپږو فيټو «۱۸۳ سانتي مترو» زيات لوړ وو، په تن غښتلی وو؛ رومي څـېرې ئـې د ګوربت د مښوکي په شان چنګه پزه درلودله، په خپلې غښتلې تنې دنګ او پلن وو؛ پراخې ليندۍ وزمه وروځې ئـې خلاصې وې، زرغون بخوني څـېرې ئـې سناري «مطلا» ډوله ځلا درلودله، غوړونه ئـې پلن او د پراخې خولې بد شکله غاښونه ئـې د نيمه پړسـېدلو شونډو تر شا پټ ول. بيضوي ډوله مخ ئـې د بارخوګانو په اوږدو کې پلـنـبېدۀ او زنه ئـې په پلنې اوږدې ږيرې کې پـټـېدله.

امير د خپلو مرکزونو په يوې کـېږدۍ کې پر بالښت باندې ډډه وهلې وه. زه په ملا ټيټ سوم او خپل درناوی مې ورته څرګند کړ، شهزاده اکبر خان او سلطان احمد خان په ملا له ټيټـېدلو او ددرناوی له څرګندولو وروسته د پاچا لاسونه ښکل کړل. د امير اکثريت زامن چې شمير ئـې ۳۳ تنو ته رسـېدۀ، د پاچا له سلاکارانو، يارانو او جنرالانو سره د بلې خوا په مخامخ کړۍ کې په درنښت ناست ول. امير په شمال کې رامنځته شوې پـېښـه شرحه کړه او تر څنګ ئـې په ډاګه کړه چې له باميانو تـېښـتـه او د شيبـر له غاښي تـېـرېـدا ورته څوني ګواښجنه وه. امير زياته کړه چې د سلطنتي کورنۍ په اړوند بد شګوني او نا آرامه خوبونه ويني او له همدې خوب وروسته ئـې يو څـۀ تلولی، زړۀ نا زړۀ او ترهوری کړی دی.

د پروان له جګړې وروسته امير دوست محمد خان له خپلو جنرالانو او زامنو سره يو ځای د پنجشير د سيند تر غاړې پراتـۀ جبل السراج ته په شا سو. جبل السراج ته له رسـېدا سره سم، د سيمې خلک او مستوفي زمان خان د شاه او ورسره بدرګه کسانو ښـۀ راغلاست ته راووتل او بيا د مستوفي زمان خان کلا ته لاړل. موږ د کلا له زښتې لويې درندې دروازې څخه چې په ډېـرې ښکلا حکاکي شوې وه تـېـر شوو او

---

[12] - George Lawrence


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

په یوهٔ لوی پراخ بڼ ننوتلو چې د خامو خښتو لوړ ختین دیوالونه ترې راتاو ول، د امیر دوست محمد خان نور ناسکه ورونه زموږ له خبر پرته ناڅاپه زموږ ټولو ښهٔ راغلاست ته راووتل چې نهٔ یوازې موږ بلکه په خپله شاه ئې هم هک پک کړ؛ ورونو له ټولو سره په دودیزې غاړو ورکولو په خوښۍ جوړ په خیري وکړه. امیر د پاینده محمد خان شلم زوی دی چې اوس د بارکزیو د قبیلې رئیس بلل کېږي؛ د ورونو له منځه مشر ورور جبار خان چې نوی د پیرنگیانو له زندانه تښتېدلی وو، په درناوي وړاندې سو او شاه ئې په «ښې او کیڼ بارخو» په وروری ښکل کړ؛ ټولو اودسونه تازه کړل او په یوې اوږدې لیکې کې د امیر تر شاه ودرېدل او د امیر په امامت ئې د ماښام لمونځ اداء کړ. امیر دوست محمد خان په قرآني علومو او د اسلام ددین په مذهبي او د شریعت په چارو کې مطلع سړی وو؛ په دین، فلسفې او ساینس کې د ژورې مطالعې په لرلو خپلو زامنو ته په یوهٔ ښه مربي بدل شوی وو چې تل به ددهٔ تر څنګ ولاړ ول. زموږ کوربه مستوفي زمان خان چې په ونه دنګ او په څېرې ښکلی سړی وو، د ښهٔ راغلاست له ویلو او د لمانځهٔ له اداء کولو وروسته مېلمانهٔ د بڼ په منځنکي کې یوې لویې درَول شوې کیږدۍ ته وبلل؛ د کیږدۍ په گرد چاپېر کې رنگارنگ گلانو او په کیږدۍ کې دننه وربښمینو پردو د ښکلي چاپېرل ښایست ته نوره ښکلا وربخښله. د روښانو سرو ځیگري غالیو پر مخ یو ډېر لوی دسترخوان غوړول شوی وو چې د وربښمو په بېلابېلو رنگونو گنډل شوي ښکلي اتهٔ څندیز نقشونه ئې درلودل. د سپین نقشي دسترخوان څلورو خواوو ته چې ژیو ته ئې زریني پراډې گنډل شوې وې له غالیو سره همرنگه سرې کوربچې «دوشکې» او بالښتونه په سمبال شوي ډول پرتې وې او د دسترخوان پر مخ باندې خوړه نامتو افغاني ماښامنۍ ډوډۍ اونل شوې وه. امیر د دسترخوان په پورته سر کې کښېناست، مستوفي زمانخان ئې ښۍ خواته، عبدالجبار خان، شهزاده اکبر خان او زه د اعلیحضرت کیڼې خواته کښېنستلو. پاتې کسان د خپلو پوځي رتبو او د ټولنیزو دریځونو د لوړوالي پر بنسټ د زرینو پراډو سپین دسترخوان څنډو ته چې نېږدۍ څلوېښت فیټه «۱۲ متره» اوږد وو کښېنستل. زه د امیر دوست محمد خان او جبار خان خوا ته نېږدې ناست وم؛ په دې سره ما کولی شول د اعلیحضرت او د جبار خان ترمنځ کرارې خبرې په هوساییۍ واورم. امیر په ډېر درناوي، له خپل مشر ناسکه ورور څخه وپوښتل : " کله چې پېرنگیو کندهار ونیو، آیا خلکو او ښار ته ئې کلک تاوان ورساوهٔ که نه؟" جبار خان په ځواب کې وویل :" تر هغهٔ ځایه چې موږ خبر لرو، یهٔ، پیرنگیانو خلکو او ښار ته کوم دروند تاوان نهٔ دی اړولی. کله چې زموږ قومي مشرانو د پېرنگیو سرهٔ زر ولیدل او تر لاسه ئې کړل نو ښار ئې د توپک له کوم ډز پرته ورته آزاد پرېښود. بیا هم د خدای شکر دی چې خلکو، پیرنگیانو، شاه شجاع او په درندو وسلو سمبال د ۲۸۳۵۰ کسیز انگریز پوځ ننداري ته څهٔ ونهٔ ویل خو په ډېر ساړهٔ زړهٔ ئې ښار ته راپرېښودل."

د ماښامنۍ ډوډۍ له خوړلو وروسته د امیر دوست محمد خان تر ټولو مشر ورور سردار عبدالجبار خان د امیر دوست محمد خان په غوږ کې څهٔ وویل. پادشاه، زامن ئې او زه له کیږدۍ دباندې ووتلو او د مستوفي زمان د کالهٔ د مېلمنو دېرې ته لاړو او وَر مو له دننه بند کړ.

سردار عبدالجبار خان امیر ته مخ راواړاوهٔ او وئې ویل :" امیر صاحبه! تاسو ته د خپلو کورنېو په هکله ډېر بد او خواشینونکی خبر لرم او دا څو میاشتې کېږي چې په کوگل مې پټ ساتلی دی، ښایي تاسو به له کومې خوا نهٔ، له یوې خوا خبر سوي یاست خو بیا هم ما دا خبر ما تر اوسه پټ ساتلی دی. وروسته له دې چې پیرنگي سپرو سرتېرو زموږ کورنۍ په بامیانو کې ونیولې په یوهٔ ډول مې وکولی شول د هغوی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له منګولو وتښتم او ځان په لنډ وخت کې تاسو ته را ورسوم او له تاسو سره یو ځای سم. په لومړي سر کې موږ د افغانستان د شمال پولیټیکل ایجنټ ډاکټر لارډ ونیولو او بیا ئې د جنرال سیل تر بولنې لاندې د انګلیسي سرتیرو برچو ته وسپارلو. د کورنۍ غړي مو په پټه د غزني له لارې هندوستان ته واستول شول. همدا شان جنرال سیل راته لیکلی اخطار ولیږه چې که امیر خپله په خپله ځان تسلیم نهٔ کړي نو کورنۍ به ئې لندن ته ولېږل شي او هلته به د جنګي جرایمو په نامهٔ محکمه شي. له هغې شیبې مې چې دا خبر اورېدلی دی، هغه مې په ګوګل کې په دې پټ ساتلی چې خدای مهٔ کړه افغانان ورباندې خبر نهٔ شي او خپله روحیه له لاسه ور کړي او د ښکیلاکګرو پېرنګیو ځواکونو د نیواک پر وړاندې زموږ مبارزې ته تاوان ونهٔ رسېږي. تاسو ښایي خبر یاست چې جنرال سیل په جلال آباد کې استوګن بارکزي ګواښلي او ورته ئې ویلي چې که خپله وسله پر ځمکه کښېنږدئ نو زموږ کورنۍ به لندن ته ولېږي او د انګلیس قانون تر سیوري لاندې به محاکمه سي. اوس راته ووایاست چې تاسو له موږ څهٔ غواړئ او څهٔ وکړو؟" ددغو خبرو په اورېدل د امیر سر وځړېد، له ډېره خښمه ئې د مخ بڼه تکه سره شوه او شېبه په شېبه په خپل ډېره وهلي بالښت کې ډوبېده. مرګوني چوپتیا خپره وه. څو شېبې وروسته امیر چوپتیا ماته کړه او وئې پوښتل :" دا پېښه چېرته رامنځته سوه؟ آیا زموږ د کورنۍ غړي ښهٔ دي؟"

عبدالجبار خان په ځواب کې وویل :" د عالمیانو د لوراند ښتن په پېرزو ټول ښهٔ دي، موږ په هزاره جاتو کې د بند امیر په شمالي برخې کې ونیول شولو، او جنرال سیل د خپلې ساتنې تر سیوري لاندې ونیولو." د امیر رنګ والوت، سترګې ئې په اوښکو ډکې شوې، لاسونه ئې رېږدېدل او د بخښنې په غوښتلو خپلې د خوب کوټې پر لور وخوځېد.

په دا بله ورځ ئې د شنهٔ سباوون په لومړنېو شېبو کې امیر، خپل زامن، ورونه او زه ئې خپل استوګنځي ته وروغوښتلو. د امیر د خوب کوټې ته په ننوتلو مې پام شو چې په ملا کړوپ دوه استوی ناست او سر ئې په بالښتانو کې ډوب ایښی دی؛ امیر نوره هغه شاهانه پګړۍ پر سر نهٔ درلودله، په سترګو کې ئې د ژور خپګان اورونه بلېدل، په ځوړندو غمژنو بارخوګانو کې ئې د ناورین نښې له ورایه ښکارېدلې، او وچو رژېدلو شونډو ئې د ژور ویر څرګندونه کوله. د ګوربت منښوکې ته ورته د چنګې پزې پوست ئې د چاقو د تیغې په شان تیغه وهلې وه، غاړه ئې ماته او لوېدلې وه او خړه ګډه وَډه ږیره ئې په سختۍ ښکارېدله. په ژوند کې مې څوک دونې په غم کې ډوب نهٔ وو لیدلي چې تر دې اندازې دې غمځپلی او مات شوی وي.

امیر دوست محمد خان د خپل غمځپلي ستوني له منځه په غمجن غږ په ټکني «متردد» ډول وویل :" برایې شپه مې هېڅ خوب و نهٔ کئ، په دې فکر کې وم چې په دغو شېبو کې څهٔ وکم. د کورنۍ د نیول کیدو په هکله مې ګنګوسې تر غوږو سوې وې، خو ما دا د پیرنګیانو تبلیغاتي ګواښونه بلل خو دا مې نفس او زړهٔ نهٔ مني او نهٔ مې ول اوریدلي چې زموږ کورنۍ دې لندن ته د انګلیس د قانون تر سیوري لاندې د محکمې لپاره یوسي. آیا د پېرنګیانو پر ضد له دونې ډېرو جګړو وروسته بیا هم جنګ ته دوام ورکم یا «سرمکنوختین[13]» ته تسلیم سم او په لودهیانې کښې له خپلې کورنۍ سره یو ځای سم؟ اوس د شطرنج د دَړې پر مخ د شطرنج داني وینم، هغوی زما " ملکه" برمته کړه، د خپل ناموس یوازې پرېښودلو ته په کتو سره اوس ددې دَړې پر مخ له کشت و مات پرته بل څهٔ نهٔ وینم."

[13] - Sir Maknokhtin


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

امیر د شطرنج په لوبې کې ډېر ماهر وو. ماښامي به ئې له قاضي بدرالدین سره د شطرنج لوبه کوله او څرګنده ده چې قاضي به هر ځل لوبه بایلودله.

وروپسې امیر د خپلو خبرو په دوام وویل :" په پروان کې د جګړې د ډګر په ګټلو مې د خپل هېواد پت او ویاړ وساتـهٔ، خو نـهٔ سم کولی د خپلې کورنی عزت او ناموس او د زرګونو کلونو پښتونولی ننګ او دود شا ته پرېږدم. هماغسې چې مشرانو ویلي دي :" زر تر سر ځار، سر تر ناموس" نو ما له ځان سره پرېکړه کړې چې د خپل ملت د اوږد مهالي خیر او د افغانولی د اصولو په پام کې نیولو سره تسلیم سم."

له یوې اوږدې چوپتیا وروسته شهزاده اکبر خان د خبرو کولو اجازه وغوښتله. شاه په ځواب کې ورته وویل :" وایه زویه ستا نظر څـهٔ دی؟"

" معظم او محترم پلاره او ګران پاچا! موږ د خپل موجوده حالت په جدیتوب ښـهٔ خبر یو، پوهېږو چې له مورنی ملکې سره یو ځای زموږ ښځمنې او یو شمیر وروڼه په هندوستان کښې برمته دي. که موږ ټول تسلیم سو، خلک به دا احساس وکړي چې موږ ټولو ته شا اړولې ده، هغوی مو په تش سپیرهٔ ډاګ یوازې پرې ایښي دي او په نهیلی ورڅخه تللي یو او په دې ډول به د هېواد د استقلال او د ملت د آزادی په لارې کې خپله مبارزه له ګواښ سره مخامخ کړو. خو که زموږ له منځه یو شمیر کسان د پرګنو په منځ کې د آزادو وګړو په شان آزاد پاتې شو داسې ورځ به راسي چې افغانان به خپلې راتلونکې ته زړهٔ ښـهٔ کړي او د یوهٔ یو موټې ملت په شان به مـېړنی پاڅون وکړي او پیرنګیان به له افغانستانه دباندې وشړي."

امیر په ځواب کې وویل :" زه همدغه خبره تاسو ټولو ته بـېرته درګرځوم چې خپل برخلیک په خپله وټاکئ. هغوی چې لارډ مکنوختین «مکناټن» ته زما له تسلیمی وروسته غواړي هر چا ته تسلیم سي، کولای سي تسلیم سي، مکنوختین د برتانیې یو لوړ پوړی پټ سیاسي مأمور او د برتانیې د نجیب سړي زوی «نجیب زاده» دی. که ستاسو له منځه یو یا ټول شاه شجاع ته ورتسلمېږئ، په خپل زړهٔ کې به د هېڅ یوهٔ پر وړاندې د غچ اخیستلو احساس ته ځای ورنـهٔ کړم. ګرانو زامنو، خوږو وروڼو! ښایي هېڅکله به بیا له یو بل سره ونـهٔ وینو، له دې کبله له تاسو ټولو سره خدای په اماني کوم. لوراند څښتن دې له تاسو ټولو سره مل وي."

امیر زما په ګډون له خپلو ټولو زامنو او وروڼو سره د خدای په امانی غېږ ورکړه او کرار ئې راته په غوږ کې وویل :" زما په اکبر باندې خپل پام ساته"

د پروان له معرکې دوې ورځې وروسته ول چې امیر ماښام مهال سر ویلیم مکناټن ته چې د نورو ورځو په شان د کابل د ښار په ورڅېرمو سیمو کې د اس په سپرلی له چکره بـېرته د کابل پر لور روان وو، ځان تسلیم کړ. ظاهراً داسې ښکاري چې امیر خپل یو تن سپور سرتـېری کپتان لارنس ته چې تل به له مکناټن سره بدرګه وو، لـېږلی وو او ورڅخه ئې پوښتي ول چې آیا له تاسو سره بدرګه «لارډ صاحب» همدا دی. وروسته له دې چې نوموړی سپور مثبت ځواب ور کوي، امیر پر خپل آس سپور مکناټن ته نـېږدې کـېږي او د خپلې توري په وړاندې کولو ورته وایي " اوس نـهٔ غواړم ورڅخه استفاده وکړم." مکناټن په ډېر ورین تندي ورته وایي :" ښـــهٔ راغلاست، ښاغلی اعلیحضرت ښـــهٔ راغلاست! کولای سئ خپله توره له ځان سره وساتئ."


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

د اندس د لښکر د پرتمیني بریـا شور تر ډېـرې مودې پورې پاتې نه سو. د ۱۸۴۰ز کال د مني مهال وو چې د افغانستان د لویدیزو او شمالي ولایتونو قومونو د پـېـرنګي نیواکګرو ځواکونو پر وړاندې پاڅون وکړ. له دې سره سره چې برتانوي سرتـېـرو او افسرانو، انګلیس ستړواکی ته خپله لوړه زورتیا او مـېـړانه په اکثریتو جګړو کې په خپلو وینو او د ژوندانه په بلهارولو څرګنده کړه خو دوی تل ګټونکي نـهٔ ول. په سیاسي چارو کې د برتانیې پېټ سیاسي مأمور سر ویلیم مکناټن مخکې له مخکې او په زښتې ډېـرې بـیـړې دا غوښتې ول چې ټول برتانوي ځواکونه دې په کابل کې سره راټول شي. امیر دوست محمد خان له خپلې تسلیمۍ لس ورځې وروسته د یوهٔ پیاوړي او غښتلي ځواک تر سیوري لاندې لودهیانې ته ولـېـږل شو. د همدغي «ستري لوبې» په پـېـل کې مو دې ټکي ته پام دی چې شاه شجاع په لودهیانې کې او امیر په کابل کې وو او په دې لوبې کې یوازې، کسان دې چې یو په بل پسې د برتانیې د سیاست په مټ بدلـېـږي.

مکناټن ته د امیر دوست محمد خان له تسلیمۍ وروسته، له شهزاده اکبر خان پرته د امیر نور ټول زامن د پلار پر پـلـهٔ ګام کښـېـښود. د یوهٔ ناپییلي امریکایي په توګې چې په آزادۍ مین یم د سردار یا د شهزادګي د لقب په درلودلو سره سره بیا هم په خپلې هغې ژمنې ټینګ ودریدم چې له امیر دوست محمد خان سره مې کړې وه؛ او له شهزاده اکبر خان سره اوږه په اوږه د یاغیانو په شان د هندوکش شمال ته د پراخو شنو ورشو ګانو پر لور وخوځـېـدم.

**********************


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ